س – احمدزی

۲۰۲۲/۱۱/۲۲

افغانستان انترنشنل د چا لخوا تمویلیږي

او چاته کار کوي

افغانستان انترنیشنال، په زهرو لړلي ژبه

افغانستان انترنشنال د Volant Media په نوم د هغې کمپنۍ څانګه ده، چې د سعودي عربستان د ولیعهد محمد بن سلمان او په ټوله کې د دې هیواد د شاهي کورنۍ لخوا تمویلیږي، چې اصلي موخه یې د ایران د ګټو پر ضد د رسنیزې جګړې پر مخ بیول دي... په ۱۳۹۶ کال کې Volant Media د ایران پر ضد د پراخې رسنیزې جګړې د پیل په موخه د ایران انترنیشنال تر نامه لاندې یو تلویزیوني چینل ایجاد کړ، چې تر ډیره د ایراني رژیم پرضد د عامه اذهانو په راپارولو کې بریالی ثابت شوی...

د ۲۰۱۶ څخه تر ۲۰۱۸ پورې د فهد ابراهیم الدغیثر په نوم شخص ددې کمپنۍ مشر وو، هغه په عربستان کې شاهي کورنۍ ته نیږدې کس ګڼل کیږي او د محمد بن سلمان سره شخصي ملګرتیا لري، چې اوسمهال د دې هیواد د زین په نوم د ستري تلیفوني شبکې مشري ورسپارل شوې، که ددې شخص د ټولنیزو رسنیو اکاونټونه تعقیب کړئ، له ورایه ښکاري، چې د سعودي شاهي کورنۍ ته نیږدې کس دی او له ایراني رژیم سره ژوره کینه لري...

له ۲۰۱۸ کال راپدیخوا عادل عبدالکریم چې یو سعودي وګړی دی او د فهد ابراهیم په څیر د سعودي د شاهي کورنۍ معتمد شخص دی، ددې کمپنۍ مسوولیت په غاړه لري... Volant Media چې مرکز یې په لندن او واشنګټن کې دی، په ۲۰۱۹ کال کې د افغانستان لپاره د افغانستان انترنشنال تر نامه لاندې یوه بله شبکه ایجاد کړې، داسې ویل کیږي، چې دا شبکه د هغو ایرانیانو د لابي په پایله کې منځته راغلې چې ددې کمپنۍ سره نیږدې اړیکې لري او په ایران انترنیشنال کې په کار بوخت دي... ددې شبکې لپاره چې کومه رسمي پالیسي اعلان شوې، خورا په زړه پورې او په ژورنالیستیکو ارزښتونو ولاړه ده. د مثال په توګه هغوی په خپله تعریف شوې پالیسي کې وایي:

«افغانستان‌اینترنشنال متعهد است که درکار حرفه‌ای خود مستقل، بی‌طرف و صادق باشد وبا بالاترین معیارها دقت و اعتماد کند.»

د بې طرفۍ په اړه هم ددوی نظر واقعا عالي دی:

«بی‌طرفی یکی از معیارهای بنیادی افغانستان‌اینترنشنال است. خبرنگاری بی‌طرف مبتنی بر واقعیات و اطلاعات مستند و پرهیز از پیش‌داوری‌های شخصی و سیاسی تعریف شده است...»

غالباً دا هغه خط مش دی، چې د Volant Media لخوا دوی ته ترسیم شوی دی؛ مګر هغه څه چې ددوی په نشراتو کې لیدل کیږي کاملا ددې اصولو برعکس دي ، له بده مرغه پدې شبکه کې هغو افغان ضد کړیو ځاله کړې، چې په هیواد کې د یو خاص قوم سره شخصي عقدې پالي، دوی نه یوازې دا چې د هیواد د یو ستر قوم سره دښمني لري، په ټولیز ډول هغه فکر ته اوبه ورکوي، چې د ایران له فرهنګي استعمار، فوقیت طلبۍ او تمامیت غوښتنې څخه سرچینه اخلي، دوی په مغرضانه ډول د افغانستان د قومونو ترمنځ دښمنۍ ته لمن وهي او اکثره تبلیغات یې په دروغژنو پروپیګنډو او افواهاتو ولاړ دي، دوی هره ناوړه کړنه په افغانستان کې یوه خاص قوم ته توجیه کوي او پدې توګه په هیواد کې قومي تعصبات لمسوي... د مثال په توګه څه موده وړاندې دوی د قوماندان احمدشاه مسعود د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مقبري په اړه خبر خپور کړ، چې ګويا د قبر شناخته يې ماته شوېده، ددې خبر له خپرولو وروسته تر څو ورځو پورې د افغانستان دبيلابيلو قومونو د وګړو ترمنځ له عصبيته ډکې ناندرۍ روانې وې، چې په پای کې هغه خبر دروغ وخوت او دې شبکې د لا زياتې رسوايي د مخنيوي لپاره ښښنه وغوښته... که د سعودي عربستان او افغانستان ترمنځ د تعاملاتو فرهنګ ته ځير شو، د تاريخ په اوږدو کې يې د افغانانو ترمنځ په قومي شخړو کې کومه دلچسپي نده ښوولې او نه د سعوديانو ملي ګټې ايجابوي، چې په افغانستان کې داسې يوه اجنډا تعقيب کړي، چې هغه دې د ايرانيانو غوښتنه و اوسي؛ اوس پوښتنه پيدا کيږي، که د سعوديانو غوښتنه هم نه وي؛ نو ولې ددوی په پيسو افغانانو ته داسې مفکوره تبليغيږي، چې په نهايت کې يې د سعودي او افغانستان ګډ حريف ته ګټه رسيږي؟ ايا افغانستان انټرنشنال ايرانی ټوپک دی، چې د سعودي له اوږې افغانان په نښه کوي؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره؛ بايد په لويه کچه حاکمه اداره د سعودي عربستان د ډيپلوماټيکو دستګاوو سره تماسونه ونيسي او ددې زهرجنې شبکې د فعاليت مخنيوی وکړي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ